


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# فاروق « فردا »

د نشر نیټه : 23 مارچ 2016 م

# غزل

یاره خدایزده که مو خوښه شي ؟؟؟

***

موږ اَلَم تَرَ... وایو، دښمن پر بابیلک وهو
خپله یو چرګان ، پر دپرانونو شتلک وهو

غله شاته راغلي ، کورو کلی یې لوټ کړی دی
موږ د یو وبل سره ، پر مخ ډنده کلک وهو

څوک نوروز حرام بولي ، او څوک مې اتڼ نه مني
خدایه وا تر څو به ، د بل چا ډول ته لخچک وهو؟

موږ پردو غمونو، له روزګاره را ایستلي یو
خپل د سکه ورور پر جنازه ، له خنداپرک وهو

هر څوک چې له نازه څو ښکنځلي لوروي پر موږ
کور کلی له مخې ، د خوښیو نه بیټک وهو

غږ چې د پردو دخوشحالئ موږ ته غم راولي
لوی واړه لګیا یو، له مستئ ورته غیچک وهو

موږ پردي آباد کړل ، پر تسکور او په چاریو خپل
جوړ له نا غیـرېیه ، خپلو ځمکو کې بیلک وهو

وینو چې دښمن رازندۍ کړی یو له ستوني نه
موږه یې له وېرې نه اټکۍ په قانقرتک وهو

وینو چې مو وژني ورته هیڅ ویلی هم نشو
خود پخپلو وینو به ، له ډاره شټنک وهو

وړو مو د تاریخ د بدنامۍ جرنګاني غاړو کې
هسې د ننګونو او غیرت په نوم خیزک وهو

****

فاروق « فردا »
کال دورۍ دوهمه نیټه ۱۳۹۵
مسکو

بازگشت به صفحه اصلی — www.said-afghani.org